مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخر ۲۰۲۲/۰۷/۱۴

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

## (څوارلسمه او وروستۍ برخه)

**یا هغه پښتانه نور وو دا څه نور شول**
**یادخدای دی اوس داهسي شان فرمان**
(خوشال بابا)

### امارت چارواکو ته وراندیزونه او وراندوینې

دا چې د امارت چارواکو د نجنو د ښوونځیو د تړل کیدو، د چادرۍ او نورو مسایلو له امله خپلو بهرنیو او کورنیو دښمنانو ته پلمه په لاس ورکړې ده، موږ له چارواکو غوښتنه کوو چې هر څومره ژر کیدی شي د نجونو ښوونځی دې پرانستل شي.
چادرې چې نه اسلامي لباس دی نه افغاني، په اړه یې سختي په کار نه ده، که تاسو فکر کوی چې په دا ډول کړنو به نړیوال تر فشار لاندې راولی او خپلې غوښتنې به پرې ومنی، پایله یې برعکس ده، که د نجنو ښوونځی همداسې تړلې پاتې شي پایلې یې له څو ډوله خطرونو ډکې دي، لکه چې وایي:**«له یوې تورې بلا پاڅې سل نورې»**
وګورئ! تاسو شل کاله وړاندې په افغانستان کې واکمني درلودله او دا دویمه دوره ده چې خدای تعالی پر افغانستان واکمن کړی، چارواکي باید له تیرو تجربو ګټه واخلي، هغوی چې له تیرو تجربو زده کړه نه کوي ناکام او نامراده دي، شل کاله وړاندې ستاسو د حکومت له کړنو خلک او نړیوال خوښ نه وو، فکر وکړئ هغه حکومت ولې له منځه ولاړ؟ د ښاغلي ډاکټر فاروق اعظم په وینا:**«د نجونو له ښوونځیو باید د اسامه موضوع جوړه نه کړو چې نړیوال مو بیا حکومت له منځه پرې یوسي..»**
داخلي او بهرني دښمنان ستاسو د کړنو له امله ورځ تر بلې مخ پر ډیریدو دي، چارواکي دې په دې پوه شي چې د نن زماني نړیوال سیاستوال، په ځانګړي توګه پاکستاني سیاستوال، د ایتالیاوي فیلسوف، نکلای مکیاولي (۱۴۶۹-۱۵۲۷ز) چې خپلې موخې ته د رسیدو په پار، له هر ډول فریب، مکر، غدارۍ بداخلاقۍ، زور او زاریو کار اخلي یاني:**«هدف وسیله توجیه کوي»** یا په بل عبارت: په هره روا او ناروا وسیله چې کولی شي خپلې موخې ته ځان رسوي.
د پاکستان دوه مخی حکومت چې له یوې خوا ځان دوست بولي له بلې خوا زموږ پر خاوره په ښکاره هوایي او راکټي بریدونه کوي او د امارت له مخالفینو سره پټې مرستې کوي، لکه چې پوهیږو استخباراتي اداري په ډیر لږ لګښت سره کولی شي مخالفان د حکومتونو پر وړاندې وپاروي او په جګړه بیزو وسایلو یې سمبال کړي، په دې خبره باید هر څوک پوه وي، په افغانستان کې چې هر ډول حکومت راځي پاکستان یې پروړاندې دښمني غوره کوي او دا هېڅ امکان نه لري چې د افغان ملت پدري دښمن **(له انګریزه تر پرویزه ...)** د امارت دوست او خواخوږی پاتې شي، له افغان حکومتونو سره د پاکستان د دښمنۍ عوامل ډیر دي خو دوه مهم لاملونه یې دا دي چې پاکستانیان پوهیږي د افغانستان نیمه خاوره یې لاندې کړې ده او له نیم زیات پښتانه **(چې لر او بر د یوه پلار زامن دي)** له خپلو ورونو جلا او د پاکستان د حکومت له خوا د هر ډول شکنجو او وژنو سره مخ دي، که په افغانستان کې پیاوړی او ځواکمن حکومت رامنځ ته شي طبعي ده چې د خپلو دیني او نژادي ورونو به دفاع کوي او تر آباسین سیند پورې به خپله پلارنۍ خاوره ترلاسه کړي.
پاکستاني چارواکي له امارت سره د پورته عواملو سربېره له دې امله هم دښمني کوي چې له ډیورنډ کرښې ها خوا د طالبانو سرتیري (تي، تي، پي) له امارت څخه پلوي کوي او په خپلو سیمو کې خپل حقه حقوق او یو ربښتنی اسلامي نظام غواړي، ډیورنډ کرښه او په پاکستان کې انګرېزی قانون چې همدا اوس نافذ دی نه مني.
دا چې پاکستان په تېر کې افغان مهاجرو ته ځای ورکړی ؤ او مرستې یې کولی، هغه مرستې د خدای تعالی د رضاء لپاره نه وې بلکې د خپلو ګټو لپاره یې د کفر او اسلام په نوم د افغانستان د ورانولو او کمزوري کولو په موخه وې، اوس چې په افغانستان کې اسلامي حکومت رامنځ ته شوی دی، د دوی پر وړاندې یې د داعشیانو (چې پخواني جنګسالاران او جنایتکاران هم ورسره یو ځای شوي دي) ملاتړ پیل کړی دی چې ښه بېلګه یې وړاندې له هغې چې طالبان کابل ته ننوځي د پخوانیو جنګسالارانو او جنایتکارانو مشران، پاکستانیو چارواکو اسلام آباد ته وروغوښتل تر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

څو وکولی شي په راتلونکي کې د امارت پر خلاف يې استعمال کړي، دا د پاکستان بنسټيزه ستراتيژي ده چې په افغانستان کې بايد د هر ډول حکومت پر وړاندې افغان مخالفين پلاس کې ولري او هر وخت چې وغواړي د دوی پرخلاف يې وکاروي چې دا ډول ډېرې بېلګې د پاکستان له جوړښت راپېدېخوا شتون لري.
اړينه ده چاړواکي، له پاکستان سره د دوی په څېر سياست وکړئ، لکه دوی چې پر افغانانو باور نه لري همداسې د شک په سترګه ورته وکتل شي او باور پرې ونه شي، دوی چې زموږ پر وړاندې څه ډول دريځ غوره کړي په هماغه شان ځواب ورکول اړين دي:

﴿فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ﴾
ژباړه:«هر څوک چې پر تاسي تېرى وکړي، تاسي په هماغه ډول پر هغه تېرى وکړئ.» (بقره: ۱۹۴)
افغانان او بهرنيان ناړي وهي چې طالبانو حکومت انحصار کړى دى، ټول ګډونی حکومت نه جوړوي ... ، په دي برخه کي اړينه ده، د دا ډول تبليغاتو د مخ نيوي او د خپل حکومت د پياوړتيا پر موخه مسلکي وزارتونه او پوستونه مسلکي کسانو ته ورکړئ، **«الله تاسو ته حکم کوي چې امانتونه د هغو اهل ته وسپارئ.»** ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ (نساء: ۵۸) تر څو د بهرنيانو پلمي غوڅي او نړيوالي مرستي هم پيل شي خو پام کوئ چې د پخواني فاسد حکومت مالوم الحاله فاسدو کسانو ته د مسلک يا اهليت په نوم ځاى ورنه کړئ، هغه چې فاسد او خاينين دي د هغوی مسلک د دوی د فساد له امله فاسد او پليد شوی دی.
په افغانستان کي د حکومتونو نيول آسان دي خو ساتل يې ګران دي، که حکومتونه له خپلو وګړو سره له پوهي کار وانخلي نو له لويو ستونزو او تباهيو سره مخ کيږي چې په تاريخ کې يې ډېرې بېلګې شته، تاسو پوهېږئ چې پښتانه سرزوري خلک دي، لکه چې وايي:**«پښتون په زوره جنت ته نه ځي خو په خوږه او نرمه خبره دوزخ ته هم درومي.»**

**پښتانه واړه ناپوه دي، يو په بل کوي غوررزی**
**چي يو سر کاندي راپورته، بل يي ووهي مغزی**
(خوشال بابا)

ديني پوهان چي د پيغمبر (ص) د شريعت وارثان دي، بايده دي چي له خپلو خلکو سره د هغه مبارک په شان بهترين او نرم چلند وکړي، که له خپلو وګړو سره د پيغمبر (ع) پر پله ولاړ نه شي نو دا ټول خلک به ستاسو له شاوخوا څخه خواره شي او ستاسو پر وړاندي به پورته شي، په دي اړه رب العالمين فرمايي:

﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾
ژباړه:[اې پيغمبره (ص)!] «دا د الله لوی رحمت دی چي ته د دي خلکو لپاره ډېر نرم خويه جوړ شوی يې، که داسي نه واى او ته توند خويه او سخت زړى واى نو دا ټول به ستا له شاوخوا څخه خواره شوی وای. د دوی خطاوې وبښه، د دوی لپاره بښنه غواړه، او د دين په چارو کي هغو ته هم په مشوره کي برخه ورکړه، بيا چې ستا اراده پر کومه رايه ټينګه شي نو پر الله توکل وکړه. د الله هغه خلک خوښيږي چي د هماغه په ډاډينه کار کوي.» (آل عمران: ۱۵۹)
**(آسمان په ستورو ښايسته دی)** حکومتونه د خلکو په ملاتړ پرمخ تګ او دوام کوي، که خلک له حکومتونو ملاتړ ونه کړي هغه حکومت نه دی، بلکې د يوې لنډمهالي او ژر له منځه تلونکي دلې واکمني ده چي ښه بېلګه يې د جمهوري دولت له منځه تلل دي، له جمهوري حکومت څخه عام خلک د هغوی د فسادونو او نورو ډول، ډول خيانتونو او غداريو له امله خوا بدي او متنفر وو، د جمهوريت د منځ تللو اصلي عامل د خلکو نه ملاتړ ؤ، پوښتنه دا ده چي آيا تاسي د افغانستان پر ځمکه د هغو خلکو عاقبت ونه ليد چي مخکي له تاسي څخه وو؟ هغوی له تاسو ځواکمن وو، بني وسلي او وسيلي يي درلودلي، له دوی څخه هغه پرمخ تللي وسلي او ودانۍ د نښي په توګه پاتي دي خو الله تعالی هغوی ته د خپلو ګناهونو سزا په دې نړۍ کې ورکړه، حکومت يي وران شو او ټولي نړۍ ونه شول کولی مرسته ورسره وکړي، د قرآن کريم په لاندي مبارکو آيتونو کي د چاړواکو لپاره د عبرت بهترين درس دی:

﴿أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ كَانُوا مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ﴾
ژباړه:«آيا دوی په ځمکه کي نه دي ګرځيدلي چې د هغو خلکو عاقبت يي ليدلی وای چې له دوی څخه مخکې تېر شوي دي؟ هغوی چې له دوی څخه زيات ځواکمن وو او له دوی څخه يي زياتي نښي نښاني په ځمکه پرې ايښي دي. نو الله هغوی د خپلو ګناهونو په سبب ونيول او هېڅوک له الله څخه د هغو ژغورونکی نه ؤ.» (غافر:۲۱ آيت؛ فاطر:۴۴ آيت؛ روم: ۹ آيت)
﴿وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا آخَرِينَ﴾
ژباړه:«او موږ ډېري سيمي تباه کړي چې د هغوی خلک ظالمان وو او له هغو وروسته مو نور قومونه راپاخول.» (انبياء: ۱۱)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

که اوس بیا ستاسو د کړنو له کبله پر افغانستان بله ټکه راپرېوځي او دا نسبي نظم چې راغلي دی له منځه ولاړ شي دا ستاسو نه بښل کېدونکی ګناه او تاریخي تېروتنه ده. **«مؤمن دوه ځلې له یوې سوړې ځخه نه چیچل کېږي.»** (بخاري: ۶۱۳۳) دا په دې مانا چې چارواکي دې دومره ناپوه نه وي چې دا خدای ورکړي واک یې بیا ځلې له لاسه ولاړ شي، که بیا ځلې دا نظام له منځه ځي نو پر ځای یې بل داسې بدیل نه شته چې په هېواد کې نظم راولي، موږ له تېرو څلوېښتو کلونو راپدېخوا هر ډول حکومتونه او باندونه ولیدل چې پرته د افغانستان له تباهۍ یې نور هېڅ ونه کړل.

سختي کول په دیني او دنیاوي چارو کې نورې سختۍ زېږوي، الله تعالی په چارو کې سختي نه خوښوي او پېغمبر (ص) له خپلو وګړو سره د سختۍ کولو پایله هلاکت بللي ده:

﴿هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾
ژباړه:«هغه (الله) تاسې د خپل کار لپاره غوره کړي یاست او په دین کې یې پر تاسو تنګي نه ده راوستلې.» (حج:۷۸)
په دې اړه په یو حدیث کې، عبدالله بن مسعود وايي:«رسول الله (ص) درې ځلې وفرمایل:«څوک چې له حده زیاته سختي کوي هلاکیږي.» (صحیح مسلم: کتاب نیکي و صله رحم)
که چېرې خلک د دوامدار فشار لاندې ونیول شي، په پای کې عکس عمل ښکاره کوي لکه چې وايي: **«تنګ آمد به جنګ آمد.»** نو هغه د ټُرکي لیکوال مرحوم عزیز نسین کېسه به ترې جوړه شي چې یوه شپون له خپل وري څخه په ډېرو وهلو ټکولو لېوه جوړ کړ، دا کېسه مرحوم نسین **(ورۍ څنګه لېوه شو)** تر سرلیک لاندې لیکلي او ډېر کلونه وړاندې مې لوستلې ده چې په لنډو یې لیکو:«یو شپون ؤ چې له یو وري یې هره ورځ د شیدو غوښتنه کوله، وري ویل: ګوره زه شیدې نه شم درکولی، زه شیدو ته نه یم جوړ شوی. خو شپون به هره ورځ ورۍ وهلو او ټکلولو، وري به له شپون څخه د ځان ژغورلو له امله په سمه او غره کې تښتیدلو، د وخت په تېریدو سره د ډېرو وهلو ټکولو له کبله د وري له پوستکي وړۍ وتوګل شوې او پوستکی یې د لېوه په څېر شو، د ډېرو منډو تړو په له امله یې پېښې د لېوه غوندې شوې او د غاښونو د چیچلو او نورو پرله پسې کړنو په نتیجه کې یې غاښونه، غوږونو او نور هر څه د لېوه په څېر شول نو کله چې ورۍ د شپون د وهلو ټکولو له امله په لېوه بدل شو نو پر شپون یې برید وکړ ... .»
وايي چې **(وږۍ ګېدړ له زمري سره جګړه کوي)** زموږ د خلکو اوسنۍ ناوړه حالت چې د لوږې او بې کارۍ له امله ګاونډیو هېوادونو ته درومي او هلته له سختو زوروونو او مرګونو سره مخ کیږي او ډېری یې په زور سره هېواد ته رالېږل کیږي، دلته په هېواد کې بیا له هماغه بې کارۍ او لوږې سره مخ وي چې دا ډېره د ناهیلۍ او خواشینۍ خبره، دا ډول مایوسه کسان او نور هغه چې په هېواد کې د دننه اوسیږي له ناچارۍ له مخالفینو سره یو ځای کیږي او دا وږي ګیدړان د مجبورۍ له امله له زمریانو سره جګړې ته اړ کیږي.
په پای کې به د ښاغلي مولوي عبدالسلام ضعیف هغه نصیحتونه چې په لومړیو کې یې د امارت چارواکو ته کړي وو او د پورته لیکنې له محتویاتو سره ښه اړخ لګوي رانقلوم:
﴿أَوْفُوْ بِعَهْدِكُمْ﴾ **«په خپل عهد وفا وکړئ.»** الآیه (*)
بدترین نظامونه هغه دي چې د خپل رعیت د زړه ماتیدو سبب شي او د ولس ملاتړ له ځانه سره ونلري او همدا باعث کیږی چې نظام ړنګ شي.
د هر چا شخصي حریم ته درناوی وکړئ، قومي او دیني ارزښتونو ته په شمول د نورو مذاهبو چې دلته شتون لري درناوی وکړئ.
ځینو ملي ارزښتونو ته درناوی وکړئ، بیرغ، بندونه او د هر قوم فرهنګ ته درناوی وکړئ.
یو ځوان په مرداره ویاله کې مه ښکته کوئ چې ولې تاسو پتلون اچولی، د هغه د غرور درناوی وکړئ، د هر قوم ژبې کلتور فرهنګ ته درناوی وکړئ.
له خلکو سره خپل واټن او تفاوت کم کړئ، د هغوی د خوښې نظام جوړ کړئ، امنیتي ځواکونو ته هدایت ورکړئ تر څو ډسپلین په لباس شکل او خبرو کې مراعت کړي، د خلکو د نظرونو درناوی وکړئ.
نور بې بندوباره مسلح کسان له ښاره ټول کړئ او ټولو ته منظم یونیفورم او نظامي شکل ورکړئ، څوک په یوه کوڅه ننوځي او څوک په بله کوڅه، نه د مسیر پلان شته، نه ټکټ رخصت شته، نه د دندې او عملیاتو پلان او [نه] سند شته دا ډول اعمال ولس ځوروي.
د حکومت تشکیلات همه شموله کړئ، هر قوم ته ونده ورکړئ، ماستر، لسانس ته پکې تر ډېر مسؤلیت ورکړئ په هره برخه کې مسلکي کسان وګمارئ، تر څو د خلکو ستونزو ته تر ممکنه حده ژر تر ژره لاس رسی وشي.
بالاخره رعیت مه ځوروئ، په خپل لاس د دی نظام عمر مه لنډوئ او مه پرېږدئ چې د شلو کلونو قرباني مو په اوبو لاهو شي او هیواد مو یو ځل بیا د اور خوراک شي. (نن ټکی اسیا: مارچ، ۲۸/ ۲۰۲۲ز، کال)
او د ښاغلي ملا حسن، رییس الوزاء خبرو ته هم غوږ شئ، چې که د امارت چارواکو ناشکري وکړه نو سخت عذاب به پرې نازل شي:
«مجاهدینو ته مې دا وینا ده، مسؤلینو ته مې دا وینا ده چې ګورئ محترمو مجاهدینو کشرانو مشرانو د امارت کارکوونکو!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زموږه او ستاسي سره پروردګار عالم ډېر غټ رحمت وکی، لوی نصرت یې راسره کی، د دغه نعمت شکر که تا اداء نه کی ای مجاهده تاسی له دې نه بېربری چې پروردګار عالم به تر دي بل سخت عذاب در باندې راولي؟ داسي فتحه راپه برخه سوه اوس نو زما او ستا لپاره دغه مناسب دي ګوره مجاهده وروره باید په دې خپل مجاهد ولس باندې رحم او ترحم وکئ، زهیر یې نه کئ، پر سر باندې د رحم لاس ورتېر کئ، پر یتیم باندې د شفقت لاس تېر کئ، دا هغه اولس دی ای ګرانه مجاهده چې ستا سره یې دا شل کاله، ته یې پر خپل کور کي ساتلی یې، ته یې په خپله غېږه کي ساتلی یې، اوس که ته د دغه ملت شکر اداء نه کي، د هغه لوی الله بادار شکر اداء نه کې، ای مجاهده ولسه! الله به تاته سخترین عذاب درکي ... الله به دې بیا د قدرت په چپلاخه ووهي، الله مو دې وساتي چې بیا به فکر کوو چي دا بیا څه راوسول، هېڅ تصور به دې نه وي کړی، تاسي فکر وکړئ پر دې خلکو چې زموږ تر مخه وو، شل ورځې د مخه والله که تصور دوی کړي وي چې په دې ارګ کي به طالب ګرځي ... خو الهي فیصله داسي وه چي لس ورځي تېریدلي دا ملک یې چپه درته راواړاوه، که دې د الله سرکشي وکړه که ولس یې یا مجاهد یې الله ته هر څه اسانه دي هر څه درسره کولی سي ... .»

دا مهال واک ستاسو په لاس کي دی، که د ولس غوښتنو ته مثبت ځواب ورنه کړي او ورډ بدلونونه رامنځ ته نه کړي، د افغانانو بې وزلي به لاپسي پراخیږي اقتصاد او پرمختیاوې به ځای پر ځای ولاړې وي، الله تعالی د چا په حالت کي تغیر نه راولي، ترڅو پخپله خپل حالت بدل نه کړي:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ﴾
ژباړه:«الله د یو قوم حالت نه بدلوي تر څو هغوی په خپله خپل حالت بدل نه کړي.»
(رعد: ۱۱)

که حالات همداسي دوام وکړي، ورځ تربلي افغان ولس، حتا دیني پوهان له امارت څخه فاصله نیسي چې په پای کي به د امارت بقاء ناشوني شي او یو بل نوی مصیبت او عذاب به په دې زوریدلي او هر دم شهید ملت باندې نازل شي. له دغه خدای درکړي فرصت څخه ګټه واخلئ، هغه چې فتنه ترې راپورته کیږي د مصلحت له مخي ترې تېر شئ، تاسو پوهېږئ چې د سختي ارتیا پر مهال الله تعالی مسلمانانو ته حرام هم حلال ګرځولي دي، په لویو مسایلو، په ځانګړي توګه په بهرنیو اړیکو او سیاست کي بدلون راولئ، له نړیوالو سره جوړجاړی وکړئ، په وړو او ناړینو مسایلو پوري مه نښلئ:

**اوښ له باره په خپل کور کي ورغلی**
**په اولجه د اوښ دغاړي د جرس دي**
(خوشال بابا)

**دا ؤ د خوار ملا آذان، که چا واوریده نو ګټه به وکړي که څوک یې نه اوري هغه د دوی خپل کار دی، دا ډول وړاندوینې مو د نړۍ مفکر صاحب ته هم کړي وې او د جمهوریت د منځه تللو لاملونه مو په څو لیکنو کې، (وړاندې له مرګه) ورته په ګوته کړي وو. چې وروستنی لیکنه (طالبان امارت غواړي حکومت جمهوریت، څه به کیږي؟) تر سرلیک لاندې لیکلې وه.**

﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾ (۳:۱۰۳)
ژباړه:«ټول یو ځای شئ، د الله رسی کلکه ونیسئ او تیت پرک مه کېږئ. د الله هغه نعمت در یاد کړئ چې پر تاسي یې کړی دی: تاسي یو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسو په زړونو کې مینه واچوله او د هغه په مهرباني او لورینه تاسي سره ورونه، ورونه شوئ، تاسي د یوې، له اوره ډکې کندې پر غاړه ولاړ وئ، الله تاسو وژغورلئ، دا شان الله تاسو ته خپلې نښانې ښکاروي، په کار ده چې په دغو نښانو سره تاسي ته د خپلې ژغورنې سمه لاره په نظر درشي.»

---

(*) د بقرې سورت په ۴۰ آیت شریف کې دغه جملې داسي راغلي دي:﴿وَأَوْفُوا بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ﴾ «او پوره کړئ وعده زما، پوره به کړم زه وعده ستاسي.» (تفسیر ابن کثیر)
نېټه:۱۴۰۱/۴/۲۲ل. ل

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ